اللهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله په لمانځه کې تکبير ووايه نو له قراءت پيلولو وړاندې به يوه لحظه چې پاتې شو، نو ما وويل: اې د الله رسوله ! زما پلار او مور دې له تا څخه قربان شي، د تکبير او قراءت تر منځه د چوپتيا په اړه خبر راکړه، چې څه وايې؟ هغه وفرمايل: «زه وايم: اللهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ».اې الله زما او د ګناهونو تر منځه داسې لرې والى راوله لکه څرنګه دې چې خټيځ له لوېديځ څخه لرې کړى دى، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګل سره ومينځه.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه لپاره تکبير وکړ، نو د فاتحې ويلو نه مخکې به يې يو لنډ ځنډ کاوه چې پدې کې به يې لمونځ په ځينو دعاګانو سره پرانيسته، او ځينې لدې دعاګانو څخه چې واردې دي د هغه دا وينا ده: «اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب، اللهم نقني من خطاياي، كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس، اللهم اغسلني من خطاياي بالماء والثلج والبرد»، اې الله زما او زما د ګناهونو تر منځه داسې لرې والى راوله لکه څرنګه دې چې خټيځ له لوېديځ څخه لرې کړى دى، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګل سره ومينځه. له الله جل جلاله څخه غوښتنه کوي چې د هغه او ګناهونو تر منځه يې لرې والى راولي تر څو پکې واقع نه شي، داسې لرې والى چې هېڅکله يې تر منځه ملاقات ونه شي، لکه څنګه چې د خټيځ او لوېديځ تر منځ هېڅکله ملاقات نه کيږي، او که چېرته په ګناه کې واقع شو نو چې داسې يې ترې پاک کړي او ګناهونه ترې لرې کړي لکه څنګه چې له سپيڼې جامې څخه خيرې لرې کيږي، او دا چې له ګناهونو يې پدې پاکيزه شيانو؛ اوبو، واورې او يخ سره پاک کړي، تر څو د ګناهونو لمبې او تودوخه سړه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3104

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee